# د افغانستان اسلامی امارت
# د کانونو او پټرولیم وزارت



## د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



گڼه: ۴۵
نیټه: ۸/لړم/۱۴۰۱

# د کانونو او پټرولیم په وزارت کې د بین الوزارتي کمیټې غونډه تر سره شوه.





د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور) په مشرۍ د مالي وزارت، اقتصاد، اوبو او انرژۍ، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او د چاپیریال ساتنې ملي ادارې د نماینده ګانو په ګډون کې بین الوزارتي غونډه د پنجشنبې په ورځ 1401/7/21 نېټه د یاد وزارت د غونډو په تالار کې تر سره شوه.

د کانونو او پټرولیم سرپرست په غونډه کې د هرات ولایت غوریانو اوسپنې او د غور ولایت د سرپ پروژو د پېل په اړه لنډې خبرې وکړې. ورپسې بیا د لویو کانونو ریاست استازي د یادو پروژو لپاره په شرایطو ور کمپنیو او شرکتونو د اسنادو د ارزونې په اړه معلومات وړاندې کړل.

د غونډې په پای کې په دې پرېکړه وشوه، چې د یادو پروژو په شرایطو برابر او غیر برابر شرکتونو په لېست کې به هیڅ ډول تغیرات نه راځي.



# د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د چین له سفیر سره د ویډیو کنفرانس له لارې خبرې وکړې

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه




د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور) او د یاد وزارت د معیناانو او یو شمېر رئیسانو په ګډون د چین له سفیر ښاغلي وانګ یو سره د استخراجي صنایع سکتور، په ځانګړې توګه د مس عینک، آمو دریا او کټواز سیمې سروې پروژو د وضعیت، پرمختګ او لومړیتوبونو په اړه یکشنبه د 1401/7/24 نېټه د ویډیو کنفرانس له لارې خبرې وکړې.

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست په پیل کې چین د افغانستان ښه ګاونډي او همکاروباله او د دغه هېواد له دوامداره مرستو څخه یې مننه او قدرداني وکړه او همدار راز یې هیله څرګنده کړه، چې د یاد هېواد مرستې په مختلفو برخو کې دوام ومومي.

د چین سفیر وانګ یو د کانونو او پټرولیم وزارت له سرپرست څخه د مننې تر څنګ له افغانستان سره یې د دغه هېواد د مرستو پر دوام ټینګار وکړ، ښاغلي وانګ یو وویل: افغانستان او چین دوستانه اړیکې لري او چین په تېرو شلو کلونو کې له افغانستان سره زیاتې مرستې کړې او دغه مرستې به دوام ومومي.

د غونډې په پای کې په یادو پروژو کې د تحرک او شفافیت د رامنځته کولو په موخه د لازمو تدابیرو په اړه خبرې وشوې او د پروژو د اغېزمن تطبیق د چټکتیا په موخه پرېکړه وشوه.





کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست کندهار او هلمند ولایتونو ته سفر



د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور)، د یاد وزارت مالي او اداري مرستیال مولوي حسام الدین (صابري) او ورسره مل پلاوي د چهار شنبې په ورځ د 1401/8/4 نېټه کندهار او هلمند ولایتونوته سفر وکړ.
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د یاد سفر په ترڅ کې د کندهار له والي سره په لیدنه کې پر بېلابېلو موضوعاتو خبرې وکړې. شیخ صاحب د یاد ولایت د کانونو له ریاست څخه لیدنه وکړه او د نوموړې ریاست د کارکوونکو د ستونزو د حل په اړه یې له هغوی سره خبرې وکړي. همدا راز یې د کرومایت او د مرمر ډبرو له قراردادي شرکتونو سره خبرې وکړې.
د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست هلمند ولایت ته د خپل سفر په دوام د دغه ولایت له والي او مسوولینو سره د لیدنې پر مهال د دغه ولایت د کانونو له ریاست څخه لیدنه وکړه او د دغه وزارت لاسته راوړنې یې وستایلې او هغوی یې د خلکو او هېواد د خدمت لپاره وهڅول.
همدارنګه یې د هلمند د رخام ډبرو له ټولو پوره ورو شرکتونو سره خبرې وکړې او له دوی څخه یې وغوښتل چې خپل پروژې دي ژر تر ژره ورکړي.



کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د غزنی ولایت کاني ظواهر

افغانستان د جیولوژیکي جوړښت او جغرافیایي موقعیت له ارخه په هغو کم شمېر هیوادونو کې راځي، چې پراخه طبیعي زیرمې او ظواهر لري. یادې کاني زیرمې او ظواهر د افغانستان په ټولو ولایاتو کې شتون لري، چې په متوازنه توګه د عوایدو په دوامداره راټولیدو او لاسته راوړلو کې خوراه مهم ارزښت لري. او همدارنګه افغانان تمه لري چې، د هېواد د کانونو له استخراج او ګټې اخیستنې به د افغانستان اقتصادي او پراختیایي څرخ د ډېر وخت لپاره په خوځښت وي، چې یاد خوځښت پخپله د افغانانو د اقتصادي ودې او پراختیا لامل کیږي.

غزنی ولایت چې زیات شمیر کاني ظواهر لري د افغانستان د مرکزي ولایتونو له جملې څخه دی، چې د هیواد په سویل ختیځ کې موقعیت لري او مرکز یې پخپله د غزني ښار دی. غزني د شمال لخوا د میدان وردګ، ختیځ ته یې پکتیا او لوګر، سویل ختیځ ته یې پکتیکا، سویل ته یې زابل او د لویدیځ لخوا د اروزګان او دایکندي ولایتونو سره ګده پوله لري. د غزني ولایت نفوس د احصأیې ملي اداري د معلوماتو پربنسټ (1,362,504)تنه ښودل شوی.


د افغانستان د جیولوجی سروې او د غزني ولایت د کانونو ریاست د معلوماتو پر بنسټ، یاد ولایت د مختلفو طبیعي زیرمو او کاني ظواهرو سرچینې لري، چې تر دی د مه یې (69) سیمې په جدول کې ثبت شوي دي


نوموړي جدول تاسی کولای شی د یاد وزارت له انټرنیټي پاڼې څخه ترلاسه کړي .



# د کانونو او پټرولیم وزارت عواید

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه








د کانونو او پټرولیم وزارت په یوه اونی کې د ۱۴۰۱ کال د میزان میاشتې له ۲۱ نېټې څخه تر ۲۷ نېټې پورې (301،360،439) درې سوه یو میلیون، درې سوه شپېته زره او څلور سوه نهه دېرش افغانۍ او (2،251،000) دوه میلیونه، دوه سوه یو پنځوس زره امریکایي ډالر عواید راټول کړي دي.

**د امتیاز خاوند:**
**د کانونو او پټرولیم وزارت**

**مسوول مدیر:**
**شمس الدین (مصلح)**

**ترتیب او تنظیم :**
**استاد نجیب الله (رحیمي)**

**طرح او دیزاین:**
**محمد فرهاد (عبیدي) او مطیع الله (سحر)**

ادرس: عبدالحق څلورلارې، کابل، افغانستان
د اړیکو شمیره: 93202304455+
الکترونیکي پته: www.momp.gov.af
ایمیل ادرس: PR@momp.govaf